د مدني دعوې پر سقوط د مرورالزمان اغېزې د فقهې او افغانستان مدني قانون له نظره

پوهنيار عبدالرحمن عابد، ، فقه اوقانون څانګه، شرعياتو پوهنځی، سيد جمال الدين افغاني پوهنتون

لنډيز

مدني دعوی د خصوصي حق يا مدني حق د ترلاسه کولو لپار په محکمه کې پر مخ وړل کيږي؛ ولې مدني دعوی په بعضي حالاتو کې سقوط کوي يعنې شخص بيا نه شي کولای دعوی پر مخ بوځي چې د افغانستان مدني قانون له مخې د مدني دعوی د سقوط يو سبب مرورزمان دی. د مدني حقوقو څخه ددې څېړنې ارزښت معلوميږي او مدني حقوق د انسان د ژوند لپاره مهم دي،مګر په بعضې حالاتو کې يو شخص نه شي کولای، دغو حقوقو ته لاسرسی ولري؛ځکه چې دعوی يې ساقطيږي، ددې څېړنې موخه د مرورزمان پر سبب د مدني دعوی د سقوط څېړل دي.دغه څېړنه کتابتوني بڼه لري.ددې څېړنې ترلاسه شوې نتيجه داده چې د افغانستان د مدني قانون له مخې د انکار په صورت کې د مرورزمان پر اساس مدني دعوی سقوط کوي او په فقه کې غوره نظر دا دی چې حق د زمانې په تېرېدو سره له منځه نه ځي ولې بيا هم ځينې فقهاوو د مدني دعوی د سقوط لپاره موده ټاکلې چې دا موده يو شان نه ده.

کليدي کليمې : دعوی، مرورزمان، د مدني دعوی سقوط، فقه ، مدني قانون

سريزه

الحمد لله رب العلمين، والعاقبة للمتقين، والصلاة والسلام على اشرف العالمين، قائدنا و قائد العلماء والمتعلمين، محمد و على اله واصحبه اجمعين، امابعد: انسان يو ټولنيز مخلوق دی بايد چې په ټولنه کې ژوند وکړي، د انساني ټولنې مشکلات په ټولنيز ژوند کې حل کېدای شي، انسان هيڅکله په يوازې ځان د ژوند ضرروتونه نه شي پوره کولای بلکې اړ دی چې له نورو خلکو سره اړيکه ولري، په انساني اړيکو کې ځينې وخت يو شخص په خپلو حقوقو بسنه نه کوي،د زياتې ګټې د ترلاسه کولو لپاره نورو خلکو ته ضرر رسوي، د زيان د جبران لپاره يو شخص مجبور دی چې خپله دعوی په مدني محکمه کې اقامه کړي او د دعوې د اقامې څخه وروسته خپل حق لاسته راوړي؛خو په ځينو حالاتو کې د يو حق لاسته راړول ستونزمن وي يا يو شخص نه شي کولای خپل حق لاسته راوړي، مدني دعوی سقوط کوي.

د همدې موضوع د وضاحت لپاره غواړم د مرورزمان پر سبب د مدني دعوی د سقوط څرنګوالی وڅېړم، مرورزمان په مدني دعوي کې د موضوع د نوعيت له لحاظه توپير کوي، چې په اړه يې د افغانستان مدني قانون دريځ او هم فقهي اړخ د څېړنې لاندې نيسو.

د څېړنې ارزښت

د حق خونديتوب د ټولنيز ژوند د خونديتوب په معنی دی او په مدني ژوند کې د حق ترلاسه کول د اشخاصو لپاره ضروري دي ؛ نو په ټولنه کې د خلکو ژوند خوندي شي؛ولې په بعضې حالاتو کې يو شخص نه شي کولای د ټاکلي مودې د تېرېدو څخه وروسته په محکمه کې د دعوی د لارې حق ته رسيده ګي وکړي او دعوی سقوط

کوي؛نو په دې خاطر د حق ارزښت او د ټولنيز ژوند د ثبات په خاطر دا څېړنه د ارزښت وړ ده.

د څېړنې ستونزه

ددې څېړنې اساسي او مهمه ستونزه داده چې مدني دعوی د حق د ترلاسه کولو وسيله ده، ولې دغه وسيله په بعضې حالاتو کې له منځه ځي؛ حال دا چې په فقه کې د علماوو يو نظر دا دی چې حق د زمانې په تېريدو سره له منځه نه ځي، يا د چا حق نه ضايع کيږی، نو کله چې حق له منځه نه ځي دعوی ولې سقوط کوي ؟ د همدې پوښتنې د ځواب لپاره د مرورزمان پر سبب د مدني دعوی د سقوط اسباب د افغانستان مدني قانون او فقهي له نظره تر څېړنې لاندې نيسو.

د څېړنې موخې

۱ـ د مرورزمان پر سبب د مدني دعوی د سقوط څېړنه.
۲ـ په حيازت کې د مرورزمان د مودې څېړل.
۳ـ په قرض کې د مروزمان د مودې څېړل.

د څېړنې سوالونه :

په دې څېړنه کې لاندې اصلي او فرعي سوالونو ته ځواب موندلای شو:

۱ـ ايا د مرور زمان پر سبب مدني دعوی ساقطيږي؟

۲ـ د حيازت په دعوی کې د مرورزمان موده څومره ده ؟

۳ـ د قرض په دعوی کې د مرورزمان موده څومره ده ؟

دا او دې ورته نورې پوښتنې کولای شو موږ په دې څېړنه کې ځواب کړو .

د څېړنې تګلاره

د څېړنې تګلاره په لاندې ډول روښانه کوم. یاده څېړنه کتابتوني بڼه لري او میتود یې تشریحي پرتلیز دی.

مناقشه

د دعوی پېژندنه

مخکې له دې چې د دعوی اصطلاحي تعریف وکړو، لومړی د دعوی لغوي تعریف کوو.

الف :د دعوی لغوي معنی

دعوی په لغت کې د ادعاء څخه جوړ شوی اسم دی یعنې ادعا مصدر دی او دعوی د هغه څه لپاره اسم دی چې انسان یې غوښتنه کوي او په لغت کې په زیاتو معانیو سره راځي چې په لاندې ډول ورته اشاره کوو:

۱. دعوی د طلب تمنی او هیلې په معنی ده لکه په قران کریم کې الله جل جلا له فرمايي(لَهُمْ فِيهَا فَاكِهَةٌ وَلَهُم مَّا يَدَّعُونَ). {یاسین:۵۷ آیت}.ژباړه.ددوی لپاره په دغه (جنتونو کې ښې مېوې دي او ددوي لپاره هغه څّه دي چې دوی یې غواړي.(کابلي تفسیر ۲۳۰مخ).

۲. دعوی په یو ټاکلي شي باندې شخړې ته وايي.(احمد مختار، ۱۴۲۹هـ ،ج۱،ص۷۴۷).

۳. د مدعي ادعا په ځانګړي توګه د دعوی په نوم یادیږي. .(ابن فارس،۱۳۹۹هـ ل،ص۳۵۵).

۴. دعوی په دې معنی هم ده،چې انسان يوڅه شی ځانته نسبت کړي، چې په دې صورت کې د ادعاء څخه اخستل شوي لکه ويل کيږي(ادعی فلان شيأً) هغه يو شي ځان ته منسوب کړ.(ابن فارس،۱۳۹۹هـ ل،ص۳۵۶).

ب: د دعوی اصطلاحي معنی

دعوی اساساً عربي کليمه ده او دعوی په اصطلاح کې هغه خبر ته وايې، چې مدعي د قاضي يا حاکم په حضور کې د مقابل کس څخه خپل حق غواړي. (أفندي،۱۳۰۶هـ ق ، ج۷،ص۳۹۸،)

تحليل : ددې تعريف څخه معلوميږي،چې که چېرې يو خبر مقابل شخص ته د قاضي په نه حضور کې ورکول کيږي دعوی نه شمېرل کيږي مګر د اصل شخص پر ځای د هغه ولي،وصي،قيم او وکيل نيابت کولای شي.

(د دعوی دواړه خواوې د قانون د حکمونو سره سم بايد له قانوني اهليت څخه برخمن وي،د قانوني اهليت د نقصان يا نشتوالي او غيابت په صورت کې د ولايت،وصايت او قيموميت حکمونه د تطبيق وړ دي)(مدني محاکماتو اصولو قانون،۱۳۶۸هـ ل،۷ماده).

دعوی هغه قول دی،چې که چېرته صحيح وبلل شي په مقابل کې حق خپله واجبيږي،يادا چې دعوی د قاضي په وړاندې هغه مقبوله خبره ده،چې يو شخص پرې خپل حق غواړي يا د خپل حق نه دفاع کوي(أفندي،۱۳۰۶هـ ق ، ج۷،ص۳۹۹).

مجلة الاحکام په خپله (۱۶۱۳) ماده کې دعوی داسې تعريفوي(دعوی دې ته ويل کيږي چې يو کس خپل حق له بل کس څخه د قاضي په حضور کې وغواړي).(مجلة الاحکام،۱۶۱۳ماده)

د مدني محاکماتو اصولو قانون په خپله(۵) ماده کې دعوی داسې تعريف کړې(دعوی د محکمې په وړاندې له پردي څخه د حق غوښتنه ده).(مدني محاکماتو اصولو قانون،۱۳۶۸هـ ل،۵ماده).

د پورته مادو د وضاحت څخه معلوميږي چې د افغانستان د مدني محاکماتو د اصولو قانون چې کوم تعريف کړی، دا په خپل ذات کې د مدني دعوی تعريف دی؛ځکه د مدني محاکماتو اصولو قانون د مدني دعوی د پروسيجر څخه بحث کوي او مدني دعوی د حق د اقامې يا ترلاسه کولو لپاره صورت نيسي، بله خبره داده چې د فقهاوو په اقوالو کې هم دا خبره ليدل کيږي چې دعوی په محکمه کې د مقابل لوري څخه د حق غوښتل دی او حق د مدني دعوی له طريقه ترلاسه کيږي، همدارنګه په پورته تعريفونو کې د مجلة الاحکام تعريف غوره تعريف دی يو خو دا چې د افغانستان د مدني محاکماتو اصول قانون تقريباً په دې تعريف کې هم نظره دي، دويم دا چې دعوی په اصل کې د حق د غوښتلو لپاره د قاضي په حضور کې اقامه کيږي او دغه ټکي ته په دې تعريف کې هم اشاره شوې ده.

د مرورالزمان پېژندنه

د مروزمان د پېژندنې لپاره لومړی غواړو د مرورزمان لغوي او بيا اصطلاحي معنی د بحث لاندې ونيسو:

الف : د مرورالزمان لغوي معنی

مرور په لغت کې د تېرېدلو په معنی استعماليږي:(ابن منظور،۱۴۱۴هـ ق،ج۱۲، ص۵۴۶).

زمان په لغت کې د عربي او فارسي ژبې تر منځ مشترکه کلمه ده چې د وخت معنی لري چې دا وخت کېدای شي زيات وي يا کم.(الرازي،۱۴۲۸هـ ق،ص۱۳۳).

مرورالزمان

مرور زمان څخه په اسلامي فقه کې په تقادم سره هم تعبير شوی دی چې تقادم د پخواني توب او وخت تېرېدنې په معنا سره دی.(ابن منظور،۱۴۱۴هـ ق،ج۱۲، ص۵۴۷).

جوهري په خپل کتاب الصحاح کې ويلې دي: تقادم له (قدُم ،يقدُم) څخه اخيستل شوی دی،کله چې عربان وايي : (شئ قديم) په دې معنا چې د تېرې شوې زمانې شی دی.(الجوهري،۱۴۰۷هـ ق،ج،ص،۲۰۰۶).

ب: د مرورالزمان اصطلاحي پېژندنه

فقهاء مرور زمان يا تقادم داسې تعريفوي :(هو مرور الزمن الذي لا تسمع الدعوى بعده)(الباوردي،۱۴۲۷هـ ق،ص۲۸۲).

مرور زمان د دومره زمانې تېرېدنې ته وايي چې له هغې وروسته دعوی نه اورېدل کېږي.

الدکتور مصطفی الزرقا مروزمان داسې تعريفوي (مرورزمان په حق باندې د ټاکلې مودې تېريدل دي چې په دغه ټاکلي موده کې حق ونه غواړي په داسې حال کې چې شخص ددې توان ولري).(الزرقا،۱۹۶۸م،ج۱،ص۲۴۳).

يا دا چې شخص بېدون د شرعي او قانوني عذر څخه په ټاکلي موده کې قرض ونه غواړي.(الزرقا،۱۹۶۴م، ج۲، ص۴۵۸.)

قانون پوهان يې بيا داسې تعريفوي:(التقادم مدة محددة تسقط بانقضائها المطالبة بالحق أو بتنفيذ الحكم) (الباوردي،۱۴۲۷ هـ ق،ص۲۸۲).

د پورته تعريفونو څخه معلوميږي چې مرورزمان د حق لپاره ټاکلې موده ده چې له دغه مودې وروسته د يو شخص دعوی نه اورېدل کيږي يا هغه ټاکلې موده چې د هغې په

سرته رسېدو سره د حق او يا د حکم د نافذېدو غوښتنه ساقطېږي.پورته تعريفونو ته که وګورو نو په خپل منځ کې کوم داسې اختلاف نه لري چې په معنا او مفهوم باندې يې اغېزه وکړي؛ نو ويلی شو چې مرور زمان د هغومره ټاکلې مودې تېرېدل دي چې د هغې په تېرېدو سره د مدعي دعوی نه اورېدل کېږي؛خو ځينې علماء بيا وايي چې حق د زمانې په تېرېدو سره له منځه نه ځي ولو که هر څومره موده ورباندې تېره شي.

د مرورالزمان پر سبب د مدني دعوی سقوط

د مرورزمان پر سبب د مدني سقوط لومړی د فقهې له نظره تر څېړنې لاندې نيسو او له هغه وروسته بيا د افغانستان مدني قانون له نظره مروزمان تر څېړنې لاندې نيسو.

لومړی: د مرورالزمان په هکله فقهي اقوال

په اسلامي فقه کې د مروزمان په اړه پوهه او علم هغه وخت حاصليږي چې کله مرورزمان د حق يا دعوی سره اړيکه پيدا کړي، برابره خبره ده چې دا مرورزمان به يا د حيازت سره تړاو ولري او يا به د قرضونو سره تړاو ولري چې موږ لومړی په حيازت باندې او بيا په قرض باندې بحث کوو.

الف: د حيازت د مرورالزمان موده

مخکې له دېنه چې د حيازت په اړه فقهې اقوال د څېړنې لاندې ونيسو، لومړی حيازت تعريف کوو:

د حيازت لغوی معنی:حيازت په لغت کې د پيوسته کولو او جمعه کولو په معنی استعماليږي(زبيدي ۱۴۲۴هـ ق،حوز ماده).

د حيازت اصطلاحي تعريف: حيازت په اصطلاح کې په يو شی يا جنس باندې د تسلط څخه عبارت دی چې يو شخص يې مالک ګرځي(هيئة كبار علماء الاسلام، ۱۴۲۷ هـ ل ،ج ۱۸ ص،۲۷۴).

د حيازت د مرورالزمان د مودې په اړه فقهاء لاندې نظرونه لري :

۱ـ د احنافو له نظره

احناف علما په دې نظر دي چې د مودې تېريدو سره حق له منځه نه ځي، که دا حق په قرضونو کې وي او که په ملکيت کې وي.(حاشيه ابن عابدين،ـــج۵،ص۴۷۴،۴۷۳) ، ددې عبارت مقصد دادی چې حيازت د حق انتقال نه شي کولای؛بلکې په انتقال باندې صرف قرينه ده؛ نو په دې خاطر حق له منځه نه وړي ولو که هر څومره موده ورباندې تېره شي، ددې په اړه د مجلة الاحكام د ۱۶۷۴مادې تصريح په دې شکل ده (حق د زمانې په تېرېدو سره له منځه نه ځي).مجلة الاحكام، ۱۶۷۴ماده).

د وروستنيو احنافو علماو له نظره د مرورزمان د مودې وخت حاکم ته سپارل شوې چې دغه موده تر ۱۵کلونو پورې ده او د دولتي ځمکو دعوی تر ۱۰کلونو پورې اورېدل کيږي؛ ځکه په دې کې تصرف پټ نه پاتې کيږي مثلاً که يو کس د بل مخامخ په دولتي ځمکه کې د لسو کالو په جريان کې تصرف کوي او دا بل شخص په دغه موده کې بغير د څه عذر څخه چپ پاتې شو او بيا وروسته دعوی اقامه کړي او داسې ووايي چې د ذکر شوو کلونو څخه مخکې د دغه اسناد له وجهې دا ځمکه زما په تصرف کې وه او مدعي عليه انکار وکړي نو په دې صورت کې دعوی نه اورېدل کيږي.(افندي ۱۴۰۱۱هـ ق،ج۴،ص۳۰۴).

د پورتنيو توضيحاتو څخه معلوميږي چې د احنافو له نظره د مرورزمان پر سبب حق له منځه نه ځي ولې ځينې متاخرين علماء بيا په دې نظر دي چې په حيازت کې د مروزمان

موده ۱۵کاله ده او دا نظر په دې خاطر درست دی چې د نړۍ د زياتو هېوادونو قوانينو کې هم دا صراحت شته چې په حيازت کې د مرورزمان موده ۱۵کاله ده ؛البته يوه خبره ده چې د احنافو له دغه قول سره د افغانستان مدني قانون هم نظره دی؛ خو مدني قانون بيا يواځې د انکار په صورت کې يادې مودې ته اعتبار ورکوي.

۲: د مالکي علماو نظر:

د ابن رشدله نظره: دده نظر د مالکيانو په فقه کې اساس شمېرل کيږي،هغه وايي په باب د(يسلف في المتاع و الحيوان المضمون) د حيازت پر اساس يو شخص ته ملکيت نه انتقاليږي بلکې يواځې د ملکيت لپاره دليل دی؛ځکه چې شخص باالفعل ذوليد دی، لکه په يو شي باندې پرده راچول دلته به د ساتونکي قول په هغه صورت کې معتبر وي چې قسم وکړي، ابن رشد ددې حديث څخه استدلال کړی دی (مَنِ احْتَازَ شَيْئًا عَشْرَ سِنِينَ فَهُوَ لَهُ) (السجستاني ،۱۴۰۸هـ ق،ص۳۶۵).چا چې يو شی لس کاله د ځان سره وساته دا د هغه شو.

ددې کليمې هو له معنی علماو داسې کړې ده: که ساتونکي شخص ددغه مال يا جنس د ملکيت دعوی وکړي نو که قسم وکړي په دې صورت کې جنس ده لره ثابتيږي

خو که چېرې ساتونکی وارث وي ، په دې اړه بيا د علماو اختلاف دی .

د اصبغ او مطرف قول : د حيازت په موده کې ساتونکی وارث په منزله د اصل شخص دی.

دويم قول : ابن قاسم او ابن الماجشون دی: د حيازت موده به لنډه وي او د وارث لپاره دا صلاحيت نشته چې د څه شي په باره کې پوښتنه وکړي ،ځکه دی خو وايي چې دا شي ما په ميراث کې وړی دی(ابن رشد،۱۴۰۸هـ ق ،۱۱ج ،ص ۱۶۵).

د دې نص څخه مونږ ته دا معلوميږي چې ابن رشد د مذهب اتفاق ثابت کړی دی او هغه دا چې حيازت يواځې د ملکيت لپاره قرينه ده او د حق د انتقال لپاره سبب نه شمېرل کيږي او يواځې د ملکيت په انتقال دلالت کوي، د حيازت مثال داسې دی لکه يو څوک چې په معقود عليه پرده واچوي او يا د موندل شوي شي ،مثلاً د موندل شوی شی مدعي اخستونکی يا پيدا کونکی ته راغي او ددغه شي د ملکيت دعوی يې وکړله او د هغه شي نښې يې بيان کړې؛نو دا د هغې مستحق شو او که چېرته د هغه شي د ملکيت دعوی ونه کړي او په عدم ملکيت يې اقرار هم وکړ ،نو په دې صورت کې بيا د شي مستحق نه ګرځي ،اګر که د هغې نښې هم بيان کړي،ځکه يواځې د نښو بيانول د ملکيت سبب نه ګرځي څو د ملکيت دعوی ونه کړي ، همدا راز يواځې د يو شي ساتنه هم د ملکيت د انتقال لپاره سبب نه ګرځي، نو ددې ځای نه معلوميږي چې ابن رشد له نظره د ساتونکي لپار په دې شي فيصله هله کېدای شي چې د ملکيت دعوی وکړي او د ملکيت سبب هم بيان کړي چې دا جنس يې اخستی او که ورته هبه شوی او يا ورته صدقه شوی دی؛خو د ملکيت لپاره به قسم خوري .البته ددې خبرې نه ساتونکی وارث مستثنی دی چې د هغه نه به د مخکني امورو په هکله پوښتنه نه کيږي.

۳: د ابن قيم له نظره

ابن قيم رحمه الله د مالکيه و سره متفق دی چې د اوږدې مودې د تېرېدو له وجهې د اصل مالک دعوی نه اورېدل کيږي، ځکه چې دی په دې اوږده موده کې چپ پاتې شوی، د ابن قيم له نظره ساتونکی په دې مال کې تصرف کولای شي مثلاً يو کس چې د يو کور ساتونکی دی او په هغې کې د لسو کالو په جريان کې تصرف کوي؛ نو دی کولای شي کور چاته په اجاره ورکړي يا پکې ابادي وکړي او دا شخص ددې کور نسبت ځانته کوي حال دا چې يو حاضر کس دا ګوري،نو ددې نص نه دا معلومه شوه چې ساتونکی ددې کور نسبت خپل ځانته کوي؛ نو فيصله به دده لپاره کيږي خو يوه

خبره ده چې حيازت کافی نه دی تر څو چې د ملکيت دعوی ورسره نه وي.(ابن قيم ،۲۰۱۹،ص۱۳۱).

هغه اجناس چې مرورالزمان پکې نه صحيح کيږي

۱. هغه عيني حق چې اسنادو کې معلومات ثبت شوي وي : هغه اجناس چې په اسنادو کې دهغه معلومات ثبت شوي وي په مرروزمان سره نه کسب کيږي ترڅو د شريعت د روح سره مخالف نه وي (شيخ علي الخفيف ص، ۵۵۱)

ددې مطلب صراحت دا دی هغه اجناس او عين چې په اسنادو کې ثابت وي او معلومات يې ذکر شوي وي او دغه اسنادونه د شريعت او د قانون مطابق ليکل شوي وي او هم شرايط يې بشپړ وي په دې صورت کې ددغه عين يا جنس په تړاو د مرور زمان موده نه صيح کيږي بلکې هر وخت اصل مالک کولای شي هغه ترلاسه کړي .

۲. هغه عيني حق چې په اسنادو کې نه وي ثبت شوی دا قسم هم د مرورزمان په اساس نه شي کسب کيدای ،په اسلامي فقه کې ددې لپاره مثال عام مالونه دي لکه لاري جوماتونه او داسې نور. (العدوي،۱۹۹۴م، ج ۷ ، ص ۲۴۲).

هغه عام مالونه چې په مروزمان سره نه کسب کيږي هغه وقف دی چې دا د مالکيه و نظر دی (البهجه ،ج۲، ۲۶۱) او اباضيه هم د مالکيه و سره هم نظره دي.(اطفيش،۱۴۰۵هـ ق، ج۱۳،ص ۵۰۸)

خو د احنافو له نظره د وقف دعوی د ۳۳ يا ۳۶ کلونو د تېرېدو وروسته د اورېدلو وړ نه ده .(حاشيه ابن عابدين ۴ جلد، ص۳۴۴)

او يا هغه شی چې تصرف پکې نه صيح کيږي لمر هوا، دريابونه، ځکه دا شيان د خپل طبيعت له مخې تقادم نه کسب کوي او يا هغه شيان چې د قانون او ادابو مخالف وي لکه مخدرات، د فحشا ځآيونه(المنجي، ۱۹۸۵،ص ۱۶۱).

په پورته اقوالو کې د مالکيه فقهاوو قول راجح دی؛ځکه وقف د عامو مالونو څخه دی او په عامو مالونو کې مرورزمان نه صحيح کيږي؛ بلکې مرورزمان يواځې په خصوصي مالونو کې درست دی او بل دا چې احنافو د وقف د خاصو مالونو د ګرځولو لپاره کوم دليل نه دی ذکر کړی او د مالکيه وو د خپلې خبرې لپاره دليل ذکر کړی دی.

ب: د قرض د مرورالزمان موده :

د قرض د مرورزمان د مودې په اړه فقها لاندې نظرونه لري.

۱. د احنافو نظر

احناف علما په دې نظر دي چې مرورزمان په سبب دعوی ساقطيږي، په هغه صورت کې چې د حق په تړاو څه ونه وايې يا چپ پاتې شي، مګر په هغه صورت کې چې مدعي عليه د مدعي په حق اعتراف وکړي نو بيا په ده باندې د ديانت او اداء له وجهې وفا لازمه ده ؛خو په هغه صورت کې چې شخص انکار وکړي نو بيا په دې صورت کې د مودې په تېريدو سره حق له منځه ځي او دعوی نه اوريدل کيږي . (ابن عابدين ـــ ج ۴،ص ۳۴۲)

مخکې دا خبره تشريح شوه چې د احنافو علماو يو نظر دادی چې حق د زمانې په تېرېدو سر نه ساقطيږي؛ خو د احنافو ځينې علما بيا دا خبره مني، په قرض کې که يو شخص تر ټاکلې مودې پورې د خپل حق غوښتنه ونه کړي او چپ پاتې شي دعوی سقوط کوي، که چېرته مدعي عليه اعتراف وکړه؛نو په دې صورت کې مدعي عليه په خپل اعتراف

ملزم دی ، که چېرته اعتراف يې ونه کړه، بلکې انکار يې وکړ او مدعي د انکار با وجود په ټاکلي وخت کې د خپل حق غوښتنه ونه کړي ؛نو په دې صورت کې دعوی له منځه ځي او سقوط کوي.

۲: د مالکي علماو نظر

د المدونة په کتاب کې د امام مالک قول او نظر داسې نقل کړی دی. امام مالک وايي، د هغه شخص په هکله چې نورو ته اقرار کوي چې ستاسو پلار ما ته قرض راکړی وو او هغه مې ورته اداء کړی دی، نو امام مالک داسې وايي چې هغه شخص چې تازه يې دعوی کړې وي او وخت پرې نه وي تېر شوی نو د مدعي عليه دا قول چې ما دا مال ادا کړی دی هيڅ فايده نه کوي څو چې قاطع دليل ورسره د قرض د اداء لپاره نه وي او که چېرته زمانه اوږده تېره شوې وي نو بيا به اقرار کونکی قسم کوي او دده قول معتبر دی .(امام دارالهجرة ۱۴۱۵هـ ق، ،ج۴،ص ۹۰).

د ځينو مالکي علماو نظر دادی چې د قرض دعوی وروسته د ۳۰کالو د مودې څخه نه اوريدل کيږي او دا قول د حطاب د ولد ابن فرحون څخه په دې عنوان (هغه موده چې د قرض دعوی پرې ساقطيږي) نقل کړی دی.(الحطاب،۱۴۳۱هـ ق،ص:۱۸۰).

د پورته ذکر شوي خبرې صراحت دا دی چې امام مالک په دغه کتاب کې د قرض د له منځه تللو خبره نه ده کړې؛ خو دومره خبره ده چې که چېرته اوږده زمانه تېره شي؛نو بيا د شخص اقرار په هغه صورت کې معتبر دی چې قسم وکړي ، مثال يو شخص په خپل ځان باندې د بل چا د قرض اعتراف وکړ او داين مړ وي او د هغه اولادونه ژوندي وي او مديون شخص دعوی وکړي چې ما ستاسې د پلار قرض مخکې دهغه د وفات څخه ورکړی دی په دې صورت کې په ده باندې قسم کول لازمي دي او پرته د قسم

نه دده غاړه نه خلاصيږي، نو امام مالک اګر که د قرض د ساقطيدو خبره نه ده کړې ولې د ملکيت د ساقطېدو خبره يې کړې ده.

دويم: مرورالزمان د قانون له نظره

د مرورزمان موخه داده چې په يو حق باندې ټاکلي قانوني وخت تيريږي،بې له دې چې څوک په نوموړي حق باندې دعوی وکړي يعنې په عرف، قانون او فقه کې د مرورزمان په حالت باندې اطلاق کيږي،چې مدني دعوی اورېدل د ټاکلي وخت څخه وروسته چې په هغه کې کوم قانوني عذر وجود ونلري،د خپل حق له غوښتنې يې لاس اخستي وي،د مرورزمان په اساس د مدعي دعوی نه اورېدل کيږي او دفع له منځه ځي.(ابن عابدين،ـــــج۶،ص۴۸۵).

د مدني قانون(۹۶۵) ماده داسې صراحت لري:(حق د زمانې په تېرېدو نه ساقطيږي او دعوي چې په هرسبب وي پرمنکر باندې په تېريدو د۱۵کاله سره ساقطيږي.(مدني قانون،۱۳۵۵هـ ل،۵۶۵ماده)

د مدني قانون په بل ځای کې داسې صراحت وجود لري(که څوک بې له انقطاع څخه د ۱۵ کلونو په اوږدو کې پرله پسې ډول د عقار يا کوم بل شي ذوليد وي او پر هغې باندې بې له جګړې مالکانه تصرف ولري، نو پر هغه باندې د ملکيت دعوی نه اورېدل کيږي.(مدني قانون،۱۳۵۵هـ ل ۲۲۷۹ماده).

د پورته دواړه مادو د ضاحت څخه معلوميږي چې په عقار او ملکيتونو کې د مرورزمان موده ۱۵ کاله ده او د ۱۵ کالو د تېرېدو څخه وروسته دعوی د اورېدو وړ نه ده؛ خو دومره ده چې په قانون کې دا موده مطلق نه ده بلکې د انکار په صورت کې که يو شخص تر ټاکلي وخت پورې خپله دعوه تعقيب نه کړي ؛نو د ټاکلې مودې د تېرېدو

وروسته دعوی له منځه ځي او نه اورېدل کيږي؛خو په فقه کې علماوو د سکوت کلمه ذکر کړې ده ؛البته د سکوت څخه هدف د مدعي سکوت دی ولې په قانون کې د انکار څخه هدف د حايز انکار دی، چې مقابل شخص يا اصل مالک چې مدعي دی بايد تر ټاکلي وخت پورې خپله دعوی تعقيب کړي او د ټاکلي وخت د تېرېدو څخه وروسته د شخص دعوی نه اورېدل کيږي.

لاکن په دې کی داسې حقوق شته چی په تېرېدو د ۵ کاله ساقطيږي لکه دکورونو کرايه ،د ځمکې اجاره او معاشات چې بدون دمعقول عذرڅخه د۵ کالو په تېرېدو سره ساقطيږي،د هغه حاصلاتو دعوی چې د بد نيت تصرف کونکي په ذمه وي يا هغه مستحق ګټه چې د وقف د ناظر په ذمه پاتې وي د هغې دعوی تر ۱۵ کلونو پورې اورېدل کيږي(مدني قانون،۱۳۵۵هـ ل،۵۶۶ماده)

د ۵۶۶مادې د وروستۍ برخې حاصل دادی چې هغه حاصلات چې د يو شخص پر ذمه وي او دی پکې په بد نيت تصرف کوي يا هغه مستحقه ګټه چې د شخص پر ذمه پاتې وي نو ياده دعوی تر ۱۵کلونو پورې اورېدل کيږي.

اوځينې داسې حقوق دي ،چی په تېرېدو د يوکال سره ساقطيږي لکه د طبيب، انجينر او مدافع وکيل او په ټوله کې د هر چا حقوق چې ازاد کسب او کار ولري لکه دلال،کميشن کار،دوا پلورونکی او اهل خبره چې د وظيفې له وجهې يې ترسره کړی وي يا هغه تجاران چې خلکو ته يې اجناس وارد کړي يا صادر کړي وي،يا د هوټلونو خاوندان چې پر خلکو يې د شپې يا د طعام پيسې پاتې وي يا د کارګر ، اجير او مستخدم حقوق چې د ورځني يا غير ورځني اجورې څخه راپيدا شوي وي. (مدني قانون،۱۳۵۵هـ ل،۹۶۷ماده).

د ميراث د مرورزمان په اړه مدني قانون داسې صراحت لري.(که څوک په عقار باندې د ۳۳ کلونو په ترڅ کې ذوليد وي او پر هغې باندې بې له جګړې مالکانه تصرف ولري؛نو

پر هغې باندې بې شرعي عذر څخه د ميراث دعوی نه اورېدل کيږي.(مدني قانون،۱۳۵۵هـ ل، ۲۲۸۰ماده).

د مدني قانون وضاحت د مرورزمان د مودې په تړاو مختلف جهتونه لري، په عقاري ملکيتونو يا حيازت کې ۱۵کاله ، په ميراث کې ۳۳ کاله په ځينو نورو مدني حقوقو کې ۵ کاله يا د يو کال موده په نظر کې نيول شوي دي، ددې خبرې علت دا کېدای شي چې په ميراث کې د لحاظ موضوع زياته مطرح ده کېدای شي د خپلوۍ د لحاظ په خاطر يو څوک زر د ميراث غوښتنه ونه کړي او دغه يې وروستۍ موده ده يا د عقاري اموالو يا حيازت لپاره ۱۵ کاله د مرورزمان موده اوږده موده ده او دا په دې خاطر چې ددې شيانو وجود ثابت دی او زر نه ضايع کيږي؛خو د انکار په صورت کې په دغه موده کې بايد خپله دعوی تعقيب کړي ولې کوم حقوق چې ذات شخص پورې تعلق ولري، ددغه حقوقو لپاره د مرورزمان موده کمه په نظر کې نيول شوې، ځکه دغه حقوقو د ضايع کېدو امکان شته، لکه د شخص مړينه يا د شخص غيابت او يا د مال تلف کول او نور هر څه ممکن دي،نو په دې خاطر مدعي بايد کوښښ وکړي چې خپل حق زر لاسته راوړي او د ټاکلې مودې د تېرېدو وروسته دعوی نه شي تعقيبولای.

د مرورزمان د مودې په اړه د مدني قانون صراحت داسې دی(د مرورزمان موده په ورځو حسابيږي نه په ساعتونو،لومړۍ ورځ په موده کې نه حسابيږي او اخره ورځ په تېرېدو سره موده ختميږي).(مدني قانون،۱۳۵۵هـ ل،۹۷۲ ماده).

مقارنه

دلته غوره نظر هم دادی، چې حق د زمانې په تېرېدو سره نه ساقطيږي ولو که سل کاله هم ورباندې تېر شي؛خو په هغه صورت کې چې شخص د يو حق څخه منکر وي او د يو چا حق نه مني نو په دې صورت کې که چېرته مقابل لوری تر ۱۵ کالو پورې دعوی

ونه کړي وروسته له دغه مودې د پوره کېدو څخه بيا نه شي کولای دعوی وکړي او دعوی يې ساقطيږي،دغه ټول حقوق کوم چې په پورته ماده کې ذکر دي،ددې ټولو لپاره په هغه صورت کې دغه موده په نظر کې نيول کيږي چې شخص منکر وي او که چېرته قانع وي نو بيا که هر څومره موده ورباندې تېره شي د زمانې په تېرېدو سره نه ساقطيږي او دا په اسلامي شريعت کې هم غوره نظر دی چې حق د زمانې په تېرېدو سره نه ساقطيږي.

په حنفي فقه کې د وروستنيو علماو نظر دا دی چې د مرورزمان د مودې صلاحيت به سپارل کيږي د وخت حاکم ته او دغه موده ۱۵ کاله ده ، په قانون کې د ۱۵ کاله مودې يادونه شوې خو د وخت د حاکم خبره نه ده ذکر شوې؛ ځکه په فقه د مرورزمان يو ډول اجتهادي مرورزمان دی چې د وخت حاکم ته سپارل کيږي چې هغه هر څومره موده وټاکله په هغه موده کې به دعوی تعقبيږي .

مالکي علماء د مرورزمان لپاره ۱۰ کاله موده ټاکي ولې او امام ابن قيم په دې موضوع کې له هغه سره هم نظره دی چې په دغه ټاکلې موده کې يو شخص حق ونه غواړي او چپ پاتې شي نو په دې صورت کې د شخص حق د مرورزمان لاندې راځي ؛مګر په قانون کې د چپ پاتې کېدو خبره نه ده شوې بلکې د شخص د انکار خبره ياده شوې، د انکار په صورت کې يو شخص تر ټاکلې مودې پورې د حق غوښتنه ونه کړي؛نو د ټاکلې مودې له تېرېدو وروسته بيا د شخص دعوی نه اورېدل کيږي.

د فقهي له نظره مرورزمان په ځينو شيانو کې اغيز نه لري لکه هغه اجناس چې د هغه لپاره ثابت اسناد موجود وي او په اسنادو کې د هغه وضاحت شوی وي ؛نو په داسې مالونو کې مرورزمان موده تاثير نه کوي يا هغه عام مالونه چې خصوصي ملکيت نه وي لکه وقف يا هغه مالونه چې د خپل طبعيت له مخې عام مالونه وي لکه هوا ، لمر په دې شيانو کې مرورزمان نه صيح کيږي خو قانون په دې اړه کوم صراحت نه لري ځکه اصولاً

مرورزمان یواځې په خصوصي ملکیت کې درست دی؛ ځکه خصوصي ملکیت د حیازت لاندې راځي.

پایله

د مدني دعوی د سقوط د اسبابو په هکله د افغانستان مدني قانون یواځې د مرورزمان د بحث لاندې نیولی، مګر هغه هم مطلق نه دی،په دې معنی چې مرورزمان یواځې د انکار په صورت کې که چېرته یو شخص تر ۱۵ کاله پورې خپله دعوی اقامه نه کړي ، دعوی یې سقوط کوي او وروسته ددغه مودې د تېرېدو څخه یو شخص نه شي کولای دعوی اقامه کړي؛خو په اسلامي فقهه کې یاده موده مختلفه ده، ځیني بیا وایي چې حق د زمانې په تېرېدو سره نه ساقطیږي.

د احنافو له نظره حق د زمانې په تېرېدو سره نه ساقطیږي، ولې ځیني احناف علماء په دې نظر دي چې د مدني دعوی د مروزمان لپاره لس یا پنځلس کلونه د مرورزمان موده ده. د مالکي علماو له نظره د مرورزمان موده ۱۰کاله ده .د قرض په تړاو مالکي علماء په دې نظر دي چې که یو شخص د قرض د اداء کولو دعو وکړي نو په دې صورت کې یواځې د قسم یا قاطع دلایلو پر اساس دعوی صحیح کیږي او د احنافو علماوو نظر دادی چې که چا په قرض باندې اقرار وکړ؛ نو د یانت له مخې پر اقرار باندې وفا لازمه ده .

د مدني دعوی د مرورزمان په اړه فقهاوو مختلف نظرونه وړاندې کړي دي ، د احنافو علماوو یو نظر دا دی چې د مروزمان مودې ټاکل د وخت د امیر صلاحیت دی او دا موده ۱۵ کاله ده او په دولتي ځمکو کې د مروزمان موده ۱۵ کاله ده. مالکي علماوو د حیازت لپاره لس کاله موده ښودلې او په قرض کې یې موده نه ده ذکر کړې ولې د زیاتې مودې د تېرېدو خبره یې کړېده ، زما په فکر په حیازت کې د احنافو نظر غوره دی؛ځکه چې دوی ددغه مودې د ټاکلو صلاحیت دوخت امیر ته ورکړی دی، بل دا

چې په اوس وخت کې په قوانينو کې همدغه برداش په نظر کې نيول شوی چې ۱۵کاله موده يې په نظر کې نيولې او قانون هم د اولوالامر په تايئد نافذيږي. د افغانستان مدني قانون هم له دې خبرې سره موافق دی چې حق د زمانې په تېرېدو سره له منځه نه ځي مګر په هغه صورت کې چې شخص انکار وکړي په دې معنی چې د انکار په صورت کې به تر ټاکلي وخت پورې دعوی په محکمه کې اقامه کوې،که چېرته تر ټاکلې وخته پورې دعوی اقامه نه کړې بيا نه شې کولای دعو اقامه کړې.

نتيجه ګيري

که څه هم د يو شمېر فقهاوو له نظره د مدني دعوی د سقوط لپاره موده ذکر شوې؛خو د اسلامي فقهې له نظره غوره او مرجح نظر دادی چې حق د زمانې په تېرېدو سره نه ساقطيږي، ځکه حق د انسان لپاره ثابت دی او زمانه بايد پرې اغېز ونه کړي. د افغانستان مدني قانون د پورته خبرې سره همنظره دی؛خو قانون يواځې د انکار په صورت د مدني دعوی لپاره موده ټاکلي ده. په همدې ترتيب مروزمان يواځې په خصوصي ملکيتونو کې درست دی که څه هم د احنافو له نظره په وقف کې د مرورزمان لپاره موده ټاکل شوې ؛ولې غوره او راجح دا ده چې په وقف کې د مرورزمان موده نه ده صحيح؛ ځکه وقف د عامونو مالونو د جملې څخه دی او بل دا چې وقف د عمومي مصالحو لپاره صورت نيسي.

وړانديزونه

۱. محاکم بايد د حق د خونديتوب او ترلاسه کېدا لپاره سهولتونه ايجاد کړي، ترڅو خلک په اسانۍ سره وشي کولای خپل حق ترلاسه کړي.

۲.د مدني دعوی په تړاو بايد مدني قانون د حنفي فقهي د احکامو سره همغږي ولري او قانون جوړونکي ارګانونه بايد د مدني دعوی د سقوط د اسبابو په هکله بايد يو تګلاره اختيار کړي.

۳. د شرعياتو پوهنځي په نصاب کې که د يو مضمون په شکل اضافه شي، ښه به وي.

ماخذونه

قرانکريم

ابن رشد، أبو الوليد محمد بن أحم. (۱۴۰۸ هـ). *البيان والتحصيل والشرح والتوجيه والتعليل لمسائل المستخرجة*. بيروت: الناشر: دار الغرب الإسلامي.

ابن عابدين، محمد امين. (۱۹۶۶م). *حاشية رد المحتار على الدر المختار و تكملته*. مصر: مكتبة مصطفى حلبي البابي وأولاده.

ابن فارس أحمد بن زكرياء القزويني. (۱۳۹۹هـ – ۱۹۷۹م). معجم *مقاييس اللغة*،بيروت: دار الفكر.

ابن قيم،ابوعبدالله محمد بن ابي بكر من ايوب، الجوزية.(١٤٤٠ هـ). *الطرق الحكمية في السياسة الشرعية*، بيروت: دار ابن حزم.

ابن منظور أبو الفضل جمال الدين الأنصاري. (۱۴۱۴هـ ق). *لسان العرب*،بيروت: دار صادر.

اطفيش، قطب الأئمة محمد بن يوسف بن عيسى.(١٤٠٥هـ). *التصنيف الفقه*،الناشر مكتبة الإرشاد

أفندي، محمد علاء الدين (۱۹۶۸م). *تكملة حاشية ابن عابدين على الدر المختار*، شرح تنوير الأبصار، بيروت: دار الفكر.

الباوردي، سعود بن عبدالعالي. (۱۴۲۷هـ ق). *الموسوعة الجنائية الاسلامية*. رياض

الجوهري، ابو نصر اسماعيل بن حماد الفارابي(۱۴۰۷هـ ق)،*الصحاح تاج اللغة و معجم المقايس اللغة*،بيروت:دارالعلم للملايين.

الحطاب، محمد بن محمد بن عبد الرحمن المالكي المغربي أبو عبد الله. (۲۰۱۰ م). *مواهب الجليل في شرح مختصر الشيخ خليل ومعه مختصر الشيخ خليل*. الناشر: دار الرضوان

د علماو ټولنه. (ـــــ). *مجلة الاحكام*، كراتشی: كارخانه تجارتِ كتب، آرام باغ.

زبيدي،محمدابن محمد عبدالرزاق الحسيني.(۱۴۲۴هـ ق). *تاج العروس من جواهر القاموس*،دمشق دارالفكر

الزرقاء، مصطفى.(۱۹۶۸م). شرح *القانون المدني السوري نظرية الإلتزام العامة*،دمشق: مطبعة دار الحياة،

الزرقاء، (ـــــ). *مصطفى، المدخل الفقهي العام*،مطبعة ألف باء الأديب، دمشق،

السجستاني،أبو داود سليمان بن الأشعث بن إسحاق بن بشير بن شداد بن عمرو(۱۴۰۸ م) *المراسيل* ،بيروت،الناشر: مؤسسة الرسالة.

عدلي وزارت رسمي جريده،(۱۳۶۸ هـ ل). *مدني محاكماتو اصولو قانون*.

عدلي وزارت، رسمي جريده،(۱۳۵۵ هـ ل). *مدنی قانون*.

العدوي ، أبو الحسن، علي بن أحمد بن مكرم الصعيدي(ـــــ). شرح *كفاية الطالب الرباني*،بيروت: دار الفكر

مختار، احمد. (۱۴۲۹هـ ق). معجم *اللغة العربية المعاصرة*، الناشر،بيروت: عالم الكتب.

المدني، مالك بن أنس بن مالك بن عامر (۱۴۱۵هـ) *المدونة* ،الناشر: دار الكتب العلمية الطبعة:

المنجي، محمد،(۱۹۸۵م). *الحيازه*. منشأة المعارف: الإسكندرية

هيئة كبار علماء الاسلام،(۱۴۲۷ هـ ل). *الموسوعة الفقهية الكويتية*. وزارت الآوقاف.دولة الكويت.